سلطان جان کلیوال
۲۰۱۷/۰۹/۱۲

# د«شپون» په ویر کی!!

زمونږ د کلی د ځوانانو ډله
د غرو لمنو او په شنو درو کی
بیا بی ساتونکی او بی «شپونه» شوله.

د محبت د زده کولو په وخت
ترینه «الفت» و لاړلو
د خدمتونو د موقع په وخت کی
ترینه «خادم»، ترینه «رینتین» بیل شول
د خپل هویت د پیژندلو په وخت
تری حبیبي بلی نړی ته و لاړ
چی یی ښوله د ژوندون مستي
«بینوا» هم رانه اجل یوړلو.

چی ښونه د ادب کوله
«رشاد» هم بلی لورته کډه وکړه
چی د غیرت چیغه یی تل په خوله وه


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

رانه «اجمل» د چا پردیو بیل که

چې یې مستي او لیونتوب را ښوده

«غني» یې هم رانه جدا کړلو.

سبا به نور ځی خو دا ځوان کول به

لکه یتیم لکه یسیر پاتې شی

د «شپون» رمه به هم خوره وره شی

سترګي به لارو کی زهیر پاتې شی

«کاروان» به وژاړی په چیغو چیغو

په «جهانی» باندی به غږ وکړی

چې «کلیواله» اشنا لاس راکړه

چې دی ځوانانو ته بل« شپون» پیداکړو

چې دي پښتو، دي، د همت ژبی ته

لکه د «شپون» غوندی پښتون پیدا کړو.

سپټمبر/۱۱/۲۰۱۷

تورنتو ــ کاناډا